مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

گل رحمن رحماني

۲۰۲۴/۰۴/۰۱

# توپير

## (لنده کيسه)

د روغتون په انتظار خونه کې يې په لرګينه چوکۍ اړخونه بدلول، د روغتون سپين سرې خدمتګاره ورغوږ ته شوه.

زويه انديښنه مه کوه! خدای به هر څه په خير سم کړي، دا د څوم اولاد دی؟

سړي په انديښنه سر اوچت کړ

پينځم... ټولې لونې دي. کاش چې خدای دا ځل زوی راکړي.

سپين سرې لږ جدي او غوسه شوه.

هی زويه! دا څه وايې، لور او زوی يې چا په کې را ابستلي، هيڅ توپير نه لري، په دې خبره ګنهګارېږې، د خدای غضب به دربان‌دي نازل شي...

سپين سرې د زوی او لور د برابربنت په اړه خبرې کولې چې د دهليز په کونج کې له لګېدلي وړوکي لاسپيکر غږ وشو.سپين سرې په منده ولاړه او يوه شيبه وروسته بېرته هغه کس ته راغله.

مبارک شه! په خير تېر شو، د اولادونو مور رکه روغه ده او...

سړي خبره ورپرې کړه

ياني بيا هم نجلۍ ده؟

سپين سرې د هو په دود سر وخوځاوه او د سړي په جيب يې سترګې وګنډلې.

زما زېرى...

يوازې درې سوه اوغانۍ که هلک وی، بيا مي اووه سوه افغانۍ درنه اخيستې.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ